**لیکونکی: نیکولس.جی .اس دیوس(Nicolas.j.s.Davies) .**
**منبع او دخپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ «2019-10-02».**
**ژباړونکی : پوهند وی دوکتور سید حسام « مل » .**

---

# په ا فغا نستا ن کي دجګړي د دوړو له لاری د مړو شمیرل

## *Counting the Dead through the fog of war in Afghanistan*



د سپتمبر د میا شتي په پای کي د یوي اونی په جریا ن کي ، د متحده ایالاتو په مشری ځواکونو په افغانستان کي لږ تر لږه (70) ملکي وګړي وژلي او همدارنګه دسپتمبر په (19) تاریخ کي د متحده ایالاتو یوي بی پیلوته الوتکي لږ تر لږه (30) کروند ګر په ننګرهار ولایت کي داجیل کاج حاصلاتو ټولو اوهم بیا دسپتمبر په (23) نیټه په جنوب کي دهلمند په ولایت کي د طا لبا نو تر کنترول لاندی سیمی کی په یوه کلي د متحده ایالاتو – ا فغا ن ګډ ځواکونو په برید کي ، د ښځو اوما شوما نو په ګډون لږ تر لږه (40) ملکي وګړي د وژل کید و خبر ورکړل شوی دي .

دا ډ ول وژنو د نړیوالو رسنیو یوځه پا م ځا نته اړولي ، لکه هغسي چي د امریکي په د ننه کي په ګڼ وګوڼ ځا یونوکی په پراخه بڼه ډزی کیږي ، دا واقیعت په ګوته کوي چی دا په ورځنی سیستیما تیک ډول تاوتریخوالي کی خورا خونړی پیښی دي چي هره ورځ په زرها و خلک په ا فغا نستا ن اود متحده ایالاتو نورو جنګي ځا یونو کي وژل

کیږی کوم چی اوس لږ ترلږه ولویدیز سره د رسنیو پا ملرنه یا عا مه پوها وي دا د نه ختمیدونکي جنګ د تاوتریخوالی په څیر رینتنی یا واقیعتونه دي ځکه چي دا په متحده ایالاتو په د ننه کي د ټوپک تا وتریخوا لی دهری ورځی په تیرید و سره لا پسی تشد ید کیږي .

دکارپوریت میدیا ( اصلی سازمانی رسنیو) چوپتیا په ما تولو اودعا مه خلکو دبی پروایی یا د بی اعتنا یی د له مینځه وړلو لپا ره ( بی بی سی ) په ډ یر زړه ورتیا سره په یو اقدام لاس پوري کړ اوهغه داچي په ا فغانستا ن کي دیوی میاشتي لپا ره دموجوده جګړی د تا وتریخوالي په اړه د نورو تفصیلا تو دراټولو په لټه کی شو ، نو ددی کا ر لپاره د اګست په میا شت کي خپل ټول راپورتران اویا خبرنګاران دافغا نستا ن مختلفو سیمو او د طا لبا نو ترواک لاندی برخو ته دراپور دراټولو لپاره ولیږل ترڅو چی له ټولو سیمو څخه په تا وتریخوالی سره د ککړو عنا صرو فردی راپورونه هم ترلاسه کړی اوبیا د یو جا مع راپور په بڼه خپرو لو ته چمتو کړي ترڅو چي دامریکي په دغه ترټولو اوږد جګړه کي د ژوند اود مرګ انځور ترسیم کړی شي .

همدا شان په راپورکي په ډاګه شوي چي کوم کسان دچا پواسطه ، چیری او ولي وژل شوی دي . بی بی سی دمړو شمیر طبقه بندی کړي کوم چي (1007) وژل شوو کسا ن د ا شغا ل ضد ځواکونه ( طا لبا ن ، ا لقاعده ، داعش) - (675) تنه دولتی سرتیری او پولیس ، (494) کسه ملکی خلک او (3) تنه امریکا یی سرتیری وه .

د بلی خوا څخه «بی بی سی » وتوانید چي په پراخه کچه وپیژنی چي (2089) کسه څنګه وژل شوی دي اوهغه داچي (844) کس په مسلح نښتو ، (515) په هوایی حملاتو (255) تنه په عمدی بڼی په ډزو سره (249) کس په چاودنو او انفجار (118) په ګلوله باریو، (108) تنه په کمین کی خپل ژوند دلاسه ورکړی دي .

دغه وژنی کوم چي (بی بی سی ) په مستند بڼی سره د هغه ګذارش ورکړی دی دا فغا نستا ن له هری برخي څخه دي خو اما زیاتر کسان چی خبل ژوند دلاسه ورکړي دی هغه په کابل کی راپیښ شوی . غزنی ولایت ته نژدی [ ( په ترټولو خونړی مرګ ژوبله کي «232» کسه په (66) واریرغل سره)] اوپه شما ل د بلخ په ولایت د مزار شریف په شاوخوا کي خپل ژوند دلاسه ورکړي دي .

**محب الله** دارزګان له ولایت څخه خپل ورور چی په اوره کي مرمی خوړلی اوټپی شوی وه کله چي دکندهار روغتون ته راوړی نوله قهره ډوک د«بی بی سی » دخبریال سره په مرکه کي داسی وویل : کله چي زمونږ په سیمه کي عملیا ت جاری اوسی نو عا دی خلک بیا چیری نشی تللی نو که څوک سرغړونه وکړی یعنی کوم چیری لاړ شی نو په هغه صورت کي امریکا یا نو او افغا نی سرتیرو پر هغه باندی ګولی چلوی

دوی هرچیری چي وغوارِي بمونه غورځوی زمونږ په شا وخوا کي تول کورونه په ړزو او بمونو سره له یوسره ویجا ړ شوی دی .

په داسي حا ل کې چې د «بی بی سی» راپور د ډیرو رسنیو دراپورونو په پرتله په ا فغا نستا ن کې د ورځني وژنې ډیر هراړخیز نظر څرګند وي ، دا لا هم یو بشپړ انځور دی.« بي بي سي» په هرې پیښې کې د وژل شویو لږ ترلږه تایید شوي شمیرې شمیرلي د جګړو د تلفا تو متنا قض راپورونه یې غورځولي یا رد کړی دي، او لکه څنګه چې راپورونه وايي یا راپورراکړ شوی دی ، "په سلګونو راپورونه ایستل شوي او د بریدونو او تلفا تو ریښتیني شمیره کیدی شي خورا لوړه وي.



اشرف غنی د ا فغا نستا ن جمهور ریس

(بی بی سی ) داهم په ګوته کړي چی دا فغا نستا ن حکومتی ځواکونو د خپلو تلفا تو ریښتینی ارقام پټ سا تلي او د تلفا تو د شمیر د تا ید څخه چي ( بی بی سی ) راپور ورکړی دی ډده کړی – په داسی حا ل کی چي طا لبا نو د (بی بی سی) پواسطه سره د تلفا تو شمیر څرګندونه (بی اسا سه تورنه) اودحکومت دپروپاګنډ په توګه رد کړي دي . د متحده ایالاتو پوځ دویتنا م دجګړي څخه تر ننیو جګړو پوري د ملکي خلکو د تلفا تو د شمیرلو لپا ره خورا اوږد اوسخت تاریخ لري نود طا لبا نو ځواب څه ناڅه یوڅه سم دي .

د یا دونی وړدی اوهغه داچي (بی بی سی ) لږ ترلږه هڅه کړي چي په سیستیماتیک ډول دریښتینی وخت په نظر کی نیولو سره دافغانستان له سراسر څخه دجګړی مرګونو راپور ورکړي ،په افغانستان کي د ملګرو ملتونومرستند ویه پلاوي (یونوما) له کا ل (2007) څخه راهیسی دملکی تلفاتو په اړه راپورونه خپا ره کړي خو ددی راپورونو یوزیا ته برخه نیمګړی متنا قص ګذارش پا تی شوی او هغه داچی په دی راپورونو کي یواځی د لږ ترلږه تا یید شوی ملکی تلفا تو پیښی شا ملی دي – په کا بل کي د ملګروملتونو د بشری حقونو د فتر له خوا څیړل شوی ګذارشا ت یواځی په هغه مواردو کی تر سره شوی کوم چی دهغه د څیړلو شرایط ورته مساعد وه نه داچي وشی کړلی چی بشپړ راپور چمتو کړي .

## د جنګ مرګونو سره لوبی کول. د متحده ایالاتو جګړو کې څومره خلک وژل شوي دي؟

دغه مقاله دجنوری میاشت په (17) تاریخ کال (2016) په ګلوبال ریسرچ کی ولولی



### په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونوریس فیونا فریزر بی بی سی ته وویل چې :

په افغانستان کې دبل هرځای په پرتله دوسله والو نښتي له امله ډیر ملکي وګړی مړه یا ټپیان کیږي چې د ثبت یا راجستر شویو ملکی تلفاتو شمیر د تا یید د سختو میتودونو دنشتوالی یا دهغه میتودونو دنه رعایت کولو له امله لوړ دي خو بیاهم خپاره شوی ارقام تقریباً د واقعی تلفاتو د مقیاس کچه نه منعکسوی.

لکه څنګه چي فرازر(Frazer) منلی ، د« یونا ما» هغه راپورونه چي دملګرو ملتونو دخیرنی پربنسټ په ټول هیواد کي پیښیږی ، دافغانستان تراژیدي یواځی ټپه او پیچلي ده لکه څرنګه چی هغه مني ، دنړي په کچه خبریالان او پوهان دداسي واقعیتونو یادونه کوي کوم چي ته به وایي چي دتولو غیرنظامیانو تخمینی وژنی په جنګ کي ریښتیني دي .

په افغانستان کي دوژلو شویو جنګیالیو ( محاربو) شمیر هم تر ډیري کچي نامعلوم اویا داچي له پا مه غورځول شوی دي ، نړیوال رسنیو هک اوپک شو کله چي اولسمشر ( اشرف غنی) دجنوری میا شت کال (2019) کي په ډاګه کړ چي له هغه وخته یعنی دسپتمبرمیاشت کا ل (2014) کي چي په واک رسیدلی تراوسه پوري (45000) افغا ن

سرتیری اوپولیس وژل شوي دي نوکه چیری د(بی بی سی) گذارش کی ددولتی سرتیرو او پولیس دوژلو رقم په حدود د یو پر دریم (۱/۳) اووسی نو د(غنی )ددوری دوراندی کړ شوی ارقامو سره سر خوری یعنی چي د افغانستان په جگړه کي دوژلو شویو شمیر په (52) میاشتو موده کي په حدود د(130000) تر (140000) وژنی شوی دي.

دا په ژورنالیستیک اواکادمیک تمرین کي کوم چي (بی بی سی ) پخپل راپور کي دا فغا ن دوسله والو په نښتو کي د مړینی ترتول تا یید شوی شمیر ته گوته نیسی ، دیا دونی دی چي د (بی بی سی ) خبریالان پخپلوورکړل شوي راپورونو کي دی تیکي ته یا م نیولی دي همدغه شان نور تول ژورنالیستان د **ډرون**( بی پیلوته الوتکي ) بریدونه هوايي بریدونه اودامریکي د نورو ځواکونو عملیا تونو کي چی خلک وژل شوی دي هم حساب کوی ، مگر کله چي داعمل په تیوله جگړه کي دمړو په شمیر کی ترسره کیږي ، خبریالان ، پوهان اود ملګروملتونو د سا زما ن چا رواکو اودولت هم دنده لری ترڅو چي دا مسله روښا نه کړي چی دا یواځی حد اقل تایید شوی شمیر دي اوکه نه یعنی چي دراپور لوستونکو ته داسی انځور ورکړی یعنی چي په ډاګه کړي چی په دي جگړه کی په څه شمیرخلکو ته مرگ او ژوبله اغوښتي دي یعنی چي د وژل شویو خلکو واقعی حد او شمیر څومره دي ؟

په عراق کي جگړه دامریکی د متحده ایالاتو دوروستیو جنگونو یواځی جگړه ده چي دهغه هیواد دخلکو دمرگ او ژوبله داپیید یمولوژی په برخه کي دلته دامریکي په دننه کي دکارپوهانو پواسطه سره دهغه په مورد کي پراخي څیړنی او مطالعات ترسره شوي لکه هغسی چي په نورو هیوادونو کي دجگړي په اړین همداسی روش مخ ته وړل کیږي - دغه څیړنې د مړو مقیا س څو برابره د روغتونونو دراجستر شوو ، درسنیو دتر لاسه شوی راپورونو ، دبشری حقونو د څیرنوالو اودنوروغیرفعا لو سرچینو په پرتله زیا ت ښودلي دي.

***لیس رابرت*** (Les Robert) چي په عراق کي دمړینی دشمیر لمړی څیرونکی مخکښ لیکوال دي کوم چي دهغه راپور په کا ل (2004) کي خپور شو ، نوهغه په رونډآ (Rwanda) اودکانگو دیموکراتیک جمهوریت ( Democrativ Rupublic of Congo) دمړو شمیر څیړنی ته په حواله ، ماته وویل : چي جدی اپیډیولوژیکی څیرني په هغه هیوادونو کي وموند ، چي غیر فعا ل منا بعی یواځی د(5) سلنه پوري څرگند شوي اما په جگړه ځپلو سیمو کي له جگړی څخه د مړو دوژل کیدو اصلی کچه (20) سلنه وه .

مگرد متحده ایالاتو اود ا نگلستا ن حکومتونو اوکا رپوریت مید یا تر تیولو غوره هڅه وکړه چي په کا ل (2004 ) او (2006) په عراق کي ترسره شوي د پیښیی

ا پيډ يمو لوژی مطا لعی (څېړلی ) کړي . دا کړنه خلک دومره مغشوش کړل چې په متحده ایالاتو اوانګلستان کي ددواړو دنظرپوښتنې سروي ومومند چي اوسط اوسیدونکي یواځی یا ورلړل چي په عراق کي (10000) عراقيان وژل شوی دي آن تر هغه وروسته چی **لانسټ طبی ژورنال** (Lancet medical journal) داپيډيمولوژستانو تخميني براورد نشر ته وسپارل اوهغه داچي په عراق کی په خشونت یا تاوتریخوالي سره ډک (600000) خلک وژل شوی دي .

له بلی خوا څخه له هغه وخته چي جګړه دسعودی عربستان ترر هبری لاندي په یمن کي دنړیوالو غوسه اوکرکه را پارولي دي په انګلستان کي مستقر د (ACLED) = دوسله والی شخړی موقیعت اودپیښی دارقامو پروژه) موسسه دنړي دروغتيایی سازمان (WHO) اود ملګروملتونو سازمان د ارقامو د ثبت اوراجستریشن دفتر کوم چي د مړو په اړه خپل راپورد یمن دروغتونو د سروی له مخي ورکړی وه هغه راپورونه یی په ټپه درولی اود(ACLED) موسسه د هغه پرڅا ی د جنګي مړو په اړوند د جګړی له پیل څخه له کا ل (2015) تر ننه را برابرکړی دي . لکه هغسی چی د جولای میا شت کا ل (2019) کی (ACLED) په یمن کي دجګړی د مړی شمیر (91600) ښود لی دي نو په دغه شمیره مړو کی د هغه مړو شمیره نه دی شامل کوم چي هغوی دمخنیوی کونکی نا روغیو اود خوراکي توکو له کمی څخه ترسره شوی کوم چي دا پخپله یو بشري ناورین دي یا هغه راپور چی د یونیسف له خوا ورکړ شوی هغه دادی چي په هره لسو د قیقو کی یوه کوچني په یمن کی خپل ژوند دلاسه ورکوي .

مګرپه ا فغا نستا ن کې د( بی بی سی) د اګست میا شت د مرګ شمیرو په څیر ، د یمن څخه د( ACLED ) ارقام شاید لا هم د وژل شویو خلکو دقیقه برخه پا تې وي. غیر فعال راپوروركول لا هم غیر فعا ل راپور ورکول دي.( ACLED ) د یمن په لیرې پرتو سیموکې هرسعودي هوا یی برید یا اوروژني نشي موندلی د(بی بی سی ) خبریالانو پرته د ا فغا نستا ن په قبایلي سیمو کې پر لیرې پرتو کلیو د هر برید یا شپني برید کشف کولی شي.

لکه څنګه چې د مړیني علمي مطا لعې ته اړتیا وه ترڅو څرګنده شي چې شا وخوا (3000) خلک په پورتو ریکو کې د طوفا ن «ما ریا »په پا یله کې مړه شوي ، یوازې د مړینې هراړخیز مطا لعات کولی شي د متحده ایالاتو په نه ختمید ونکي جنګو نو کې د وژنې رینتینې کچې د با ور وړ ا ټکلونه تولید کړي. دا ډول مطا لعا ت د افغانستا ن ، یمن ، لیبیا ، سوما لیا ، سوریه او پاکستا ن لپا ره خورا اړین دي.

ددی ډ ول ورته مطا لعا تو دنه موجودیت له امله په افغا نستا ن کی د (بی بی سی ) د اګست د میا شتی اوهم د (ACLED) څیړني د یمن په اړه یو له خو را معتبر

راپورونو څخه دي ، ا ما با يد چې ددې روښا نه پوهاوی سره مل وی چې آ يا دغه را پورونه کم ترکمه د مړو شمير تا ييد وی ؟ چې هغی ته په مستند بڼه مراجعه وشی ؟ هغه پوښتنه کوم چې هغوی دلته بی ځواب پريږدی ، هغه دادي چې دوژلو شو خلکو دريښتيني شمير له کومی برخي څخه دغه راپورونه استا زيتوب کوی ؟

دعراق په شمول د نړی په جنګ ځپلو سيمو کې د اپيميمولوژيستا نو پام وړ تجربه ، دې پوښتنې ته نږدې ځواب وړاند يزکوي ، لکه څنګه چې ما په تيرو پنځلسو کلونو کې د دې پوښتنو په اړه خپل را پور کې تشريح کړی. دا ما دې پا يلې ته ورسا وه چې د امريکا متحده ايالاتو کې د( 11/9) وروسته جنګونو کې د مړيني ريښتيني شميره په لسګونو زرو کې ندي ، نه حتی په سلګونو کې ، مګر په مليونونو کې دی .

هغه ناوړه واقعيت چې په ښکاره ليد کې پټ دی دا دی چې د متحده ايالاتوجنګونه خورا پراخه او وژونکي دي په پراخه کچه خپاره شوي ارقام وړانديز کوي. له همدې امله دا په ژورنا ليستا نو، پوهانو ، فعالانو اوهيوادوالو پورې اړه لري چې دغه واقعيت درک کړي او د ځواب ويلو لپا ره يې په کلکه او کلکه غوښتنه وکړي: ددغو جګړو پای؛ د دوی د انسا نی لګښت ريښتينی محا سبه؛ د متحده ايالاتو چارواکو جنا يی تعقيب چې په بهرنيو هيوادونو دغيرقا نوني بريدونو او نورو جنګي جرمونو مسؤل دی؛ او خلکو او هيوادونو ته د جنګ تکرار تا ديه کول يا رامينځته کول دی چې دوی يعنی امريکا يا ن دنړی خلک زيا نمن کړي يا ويجا ړ کړي دي. او لاپسی ويجا ړوی .

## دليکونکی په اړين څو کرښي :

نوموړی ليکوال د (وينې ځمونږ په لاسونو کی) ، دامريکی تجاوز پر عراق ا و هغه هيواد درپه درکول يا ويجاړولو .... ...مولف هغه همداشان په (CODEPINK = يوګړنې جنبش دی چې د سولی ،عدالت اوهم د جګړی د ختميد و لپا ره کارکوی کوم چې يو ځيرونکی نا می ځيره دی هغه همدارنګه يو مستقل ژورنا ليست دی چې دهغه مقا لی په ډيرو رسنيو کی په نشر رسيږي .

------------------------------- په سلامونو «2019-10-08»